# لوئې قام پرست مشر عبدالرحیم مندوخېل صاحب

# په حق ورسېدو

خان زمان کاکړ



د رحیم صاحب مرګ د پښتنو د قامي مبارزې په ډګر کې یوه لویه ضیاع او خالي ګاه رامنځته کړه .د پښتنو د سیاسي تاریخ لوستونکي پوهېږي چې:

۱: د عبدالرحیم مندوخېل تعلق د سهیلي پښتونخوا له هغه لومړني نسل څخه وو چې لوړې زدکړې یې وکړې او هغه زدکړې یې د قام په تحریک کې په کار راوړې .ټول عمر یې له قلم او کتاب سره تعلق پاته شو.

۲: په پاکستان کې د محکومو قامونو د مبارزې په تاریخ کې د رحیم صاحب نوم په هغه خلکو کې راځي چې د بدترین ریاستي جبر او استبداد په مخ کې له خپلې قامي قضیې او مقدمې څخه تېر نه شول، له خپلو سیاسي هلو ځلو څخه لاس په سر نه شول .

۳: د محکومو قامونو سیاست یو انتهایي ګران کار دی او یوازې د اوسپنیزو حوصلو خلک دا کار په مستقل مزاجي سره کولای شي .د عبدالرحیم مندوخېل صاحب تاریخي ویاړ دا په برخه شو چې یو کُل وقتي او ټول عمري سیاسي مبارز پاته شو، نه ستړی شو، نه کناره کشه شو، نه مایوسه شو او نه دل برداشته شو.

۴: د رحیم صاحب شخصیت په داسې وخت کې تبارز کړی وو چې په نړۍ کې د اشتراکي مبارزې دور وو او زموږ په خطه کې د قامي مبارزو تحریکونو یو زبردست نظریاتي ماحول رغولی وو .د هغه پر بیانیه او لیکنو د هغه دور د سیاسي لهجې، ترمینالوژۍ او نظریاتي اساسونو عکس ډېر ځرګند وو.

۵: د پښتنو په مترقي او ملي سیاست کې د ځوانانو د تربیت په کار کې د رحیم صاحب رول موږ ته د پښتنو په سیاسي تاریخ کې په مخه راځي .هغه د یو دور په سیاسي استادانو کې شمېرل کېږي .

۶: د پښتنو او نورو محکومو قامونو او طبقو د سیاست یو داسې دور هم وو چې سیاسي مشرانو او کارکنانو به د عملي مبارزې تر څنګ د

خپل قام د تاریخ او تحریک په اړه د لیکلو کار هم تر سره کاوه .عبدالرحیم مندوخېل صاحب د عملي سیاسي هلو ځلو تر څنګ د پښتنو د تاریخ او تحریک په اړه ارزښتناکې لیکنې کړې دي. زموږ په وطن کې د واک و اختیار د نشتوالي یا خوارځواکۍ، جنګ و جدل او علمي ادارو نه لرلو له کبله د مسلکي تاریخ لیکنې یوه لویه تشه پاته شوې ده او دا ځای بیا تر یوه حده په عمومي یا غېرمسلکي تاریخ لیکنه باندې ډک شوی دی. دې حقیقت ته په پام سره، د خلکو او تاریخ تر منځ د ربط پېدا کولو په موخه عبدالرحیم مندوخېل د افغانانو او افغانستان پر سیاسي تاریخ او مبارزو د لوست وړ لیکنې کړې دي .په دې برخه کې (افغانستان او انګرېزي استعمار) او (افغان او افغانستان) د یادونې او لوستنې وړ کتابونه دي .د عبدالرحیم مندوخېل شمېر د پښتنو د" پبلک اینټیلکچولز "په کټېګرۍ کې کېږي.

۷: د پښتنو ځوان کهول باید د عبدالرحیم مندوخېل د دور په سیاسي تاریخ ځان خبر کړي، په داسې کولو سره به هغوی وپوهېږي چې د پښتنو په معاصر تاریخ کې ځینې بشري پېښې، بدلونونه، پرمختګونه، لاس ته راونې، بایلنې، ماتېدنې او رغېدنې څنګه رامنځته شوې، د پښتنو پر مجموعي قامي صورتحال یې څه ډول اغېز ودرلود او له ریاست سره په تعلق کې یې څه ډول ډاینامیکس رامنځته کړل.

۸: کله هم چې موږ د داسې مشرانو لکه عبدالرحیم مندوخېل صاحب له مرګونو څخه خبرېږو، نو دې سوچ ته لوېږو چې آیا اوس داسې څوک شته چې دا خالي شوی ځای ونیسي؟ د خفګان وړ خبره دا ده چې په اوسني دور کې موږ ته هره خالي ګاه په رښتینې معنا خالي ګاه پاته شي او داسې څوک تر لرې لرې په نظر نه راځي چې د مشرانو په مرګ راپېدا شوی تاوان لږ تر لږه جبران کړای شي.

۹: د سیاسي تاریخ مطالعه که د ګوندیزو همدردیو څخه ورپورته وشي نو ښایي چې له موږه سره د خپل سیاست د پېښو منظر په بدلولو کې لویه مرسته وکړي .د پښتنو یوه لویه بدمرغي دا هم پاته شوې ده چې ګوندیزې اړیکې او تاریخي حقیقتونه سره بېلوالی نه شي .د خپل تاریخ شریک اساسات او شریکې شتمنۍ درک کولای نه شي.

۱۰: د پښتنو لوستي کهول او د هغه د ګوند غړي له عبدالرحیم مندوخېل صاحب سره د خپل عقیدت اثبات یوازې په دې توګه کولای شي چې ددې قام د تاریخ او تحریک په هکله چې رحیم صاحب کوم علمي کار کړی دی هغه کار د نویو تهیوریو، ډسکورسونو او میتودونو په مرسته مخ په وړاندې بوځي.

اروابناد عبدالرحیم مندوخېل صاحب ته سلام، احترام او پر ګور یې انوار

د جنازې بازو مې نیسه
چرې به ما په راستۍ خوله درکړې وینه